# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې نهمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر لومړی | ۴۳۷مه ګڼه


## ځیره

۴ مخ

### ژاک شیراک



ژاک شیراک وتلی فرانسوی سیاست وال، د اپوزیسیون مشر، څو دوري وزیر او دوولس کاله د دغه هېواد ولسمشر پاتې شوی دی.

# ولسمشريزې ټاکنې؛

## ځينو نوماندانو تر وخت مخکې د بريا اعلان کړی دی



### د افغان سولې د بيا پيل هڅې

۲ مخ

### په ګرين ويليج برید او ورسره د سولې خبرو په تېپه درېدل

۲ مخ

### له دندې ستړي شوی یم، څه وکړم؟

۵ مخ

## په خوست کې د ۱۲ ښوونځيو لپاره د ودانيو جوړولو چارې پيل شوې



په خوست کې د ۸۲،۵ میلیونو افغانیو په لګښت، د ۱۲ ښوونځیو لپاره د ودانیو جوړولو چارې پیل شوې.

د ښوونځيو دغه ودانۍ د خوست په څلورو بېلابېلو ولسواليو دومنده، تني، ځاځي ميدان او سپېره کې جوړېږي.

ولايتي چارواکو په همدې تړاو د دوه منده په ولسوالۍ کې جوړو شويو مراسمو ته وويل، چې د يادو ۱۲ ودانيو ترڅنګ، د شپږو نورو د ترميم چارې هم پيل شوې دي.

د دغه ولايت د کليو پراختيا او بيارغونې رييس عاشق الله اخلاص يار پژواک ته ويلي، اړتيا ته په کتو به د خوست په نورو سيمو کې هم د زده کوونکو د سرپنا لپاره د ودانيو جوړولو کارونه پيل شي. د خوست د پوهنې رياست د معلوماتو له مخې، دا مهال د دغه ولايت په مرکز او ولسواليو کې د ۱۱۰ ښوونځيو د ودانيو جوړولو چارې رواني دي، چې په نږدې راتلونکي کې به بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

## عطامحمد نور: د اجرايه رياست د نيولو لپاره ملت واټونو ته د راوتلو زغم نه لري

د جمعيت اسلامي ګوند اجرايوي مشر عطامحمد نور د ولسمشرۍ کانديد ډاکټر عبدالله وروستيو څرګندونو ته په اشارې سره ويلي چې نوموړی دې پنځه کاله وروسته يو ځل بيا د ولسمشرۍ لپاره خپل بخت و ازمايي. دا په داسې حال کې ده چې د تلې په ٦مه د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره شوې چې د ولسمشر اشرف غني او اجرايه رييس ډاکټر عبدالله په ګډون پکې ۱۳ تنو له يو بل سره سيالۍ وکړې او ټاکل شوې چې لومړنۍ پايلې يې د تلې په ۲۷مه اعلان شي. خو عبدالله عبدالله پرون تر ماسپښين وروسته په خبري ناسته کې وويل: «کوم معلومات چې موږ ته له ولايتونو را رسېدلي، د ثبات او همپالنې ټاکنيز ټيم رايې لوړې دي. ټاکنې دويم پړاو ته نه ځي، زموږ ټيم ګټونکی دی.» د نوموړي له دغو څرګندونو وروسته د جمعيت اسلامي اجرايوي رييس عطامحمد نور بيا په خپلې فېسبوک پاڼه کې وليکل: «پوهېږم د ماتې زغمل ډېر سخت دي، په تېره څلوېښت کلنه مبارزه کې زه هم څو ځله له ماتې سره مخامخ شوی يم. له ډېره غمه د رنګ او څېرې په بدلېدو سره وايي: «موږ بريالي يو» عجب!» هغه زياته کړې: «لطفاً، د څلورم ځل لپاره پنځه کاله وروسته ټاکنو ته چمتووالی ونيسه او خپل بخت وازمايه. د اجرايه رياست د نيولو لپاره، نور ملت واټونو ته د راوتلو حوصله نه لري». ډاکتر عبدالله په داسې حال کې يادې څرګندونې کړې چې ورمه ورځ د ولسمشرۍ ټاکنو د نوماند محمد اشرف غني لومړي مرستيال امرالله صالح بيا ادعا کړې وه چې په دې ټاکنو کې د دوی ټيم «دولت جوړوونکي» له ٦٠ تر ۷۰ سلنه رايې ګټلې دي.

## افغانستان د بشرپاله مرستندويانو لپاره تر ټولو خونړی هېواد دی

OCHA

United Nations
Office for the Coordination
of Humanitarian Affairs

۲ مخ

## لويه څارنوالي: دوسيهٔ تجديدنظرخواهی زمان احمدی به محکمه فرستاده شد




لوبه څارنوالی افغانستان می گوید که پروسهٔ تجدید نظرخواهی دوسیهٔ محمدزمان احمدی، از سوی این اداره تکمیل و به ستره محکمه محول گردید. جمشید رسولی سخنگوی لوبه څارنوالی افغانستان گفته است که زمان احمدی، در سال ۱۳۹۱ خورشیدی به اتهام ارتداد، اهانت و توهین به مقدسات دین اسلام، از سوی محکمه ابتدایه حوزهٔ سوم شهر کابل به مدت بیست سال حبس زندان محکوم شده بود.

وی قرار بود یادداشتی راجع به عوامل تخریب بودای بامیان را در هفته‌نامه موعود به نشر برساند، که از سوی نیروهای امنیتی بازداشت شد. حکم وی بدون سپری شدن محکمه استیناف، در محکمه ابتدایی نهایی شده بود.

رسولی افزوده است: «دوسیه زمان احمدی، بعد از اکمال پروسهٔ تجدید نظر از سوی کمیسیون مؤظف تجدید نظر در لویه څارنوالی، غرض اجراآت بعدی قانونی به ستره محکمهٔ جمهوری افغانستان، محول گردید». لویه څارنوالی پس از اعتراض‌های بی‌شمار، یک کمیسیون را برای بررسی درخواست تجدید نظر دوسیه احمدی گماشته بود.

بربنیاد معلومات منبع، محمد زمان احمدی از مجموع بیست سال محکومیتش، مدت بیش‌تر از شش سال و ده ماه آن را در زندان سپری کرده و مدت پنج سال و شش ماه از فرامین عفو و تخفیف مقام عالی ریاست جمهوری مستفید شده است.


به نقل از خبرنامه؛ چند روز قبل وکیل مدافع احمدی، عریضه ای را مبنی بر تجدید نظرخواهی موکل خود، عنوانی مقام لویه څارنوالی فرستاده و خواهان تجدید نظر در حکم محکمه شده بود.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## دریـــځ

### د افغان سولې د بیا پیل هڅې

په افغانستان کې سیاسي فضا لا هم ټاکنیزه ده، خو داسې ښکاري چې د افغانستان مسئله د سیمې د هېوادونو او نړیوالو قدرتونو لپاره مهمه موضوع ده. تازه د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړې استازي ضمیر کابلوف ویلي چې هېواد یې د افغان سولې په تړاو نړیواله غونډه جوړوي. په دې غونډه کې چې په اکتوبر کې به جوړېږي، د روسیې، چین، امریکا او پاکستان استازي برخه اخلي. روسي چارواکو تایید کړې چې په دې اړه یې له طالبانو سره اړیکې ټینګې کړې دي، خو په دې اړه یې څه نه دي ویلي چې افغان حکومت هم دې غونډې ته بلل کېږي او که نه .

سوله زموږ افغانانو جدي اړتیا ده، خو دلته د جګړې له دوام د ځینو هېوادونو ګټې او د ځینو هېوادونو زیانونه هم غوټه شوي دي. له همدې امله اوس د افغانستان د سولې چاره یوازې زموږ کورنۍ مسئله نه ده، بلکې ځینې نور هېوادونه هم غواړي چې په افغانستان کې روانه جګړه ختمه شي. روسیه، چین او د سیمې ځینې نور هېوادونه فکر کوي چې د افغانستان جګړه یې ګټې ګواښي او ښایي د جګړې دوام دغو هېوادونو ته هم د جګړې د لېږد سبب شي. له همدې امله غواړي چې په افغانستان کې روانه جګړه ختمه شي. له بله اړخه ځینې سیمه ییز هېوادونه، په ځانګړې ډول د منځنۍ اسیا هېوادونه په افغانستان کې د دې لپاره هم امن او سوله غواړي، چې دوی له جنوبي اسیا سره ونښلول شي او اقتصاد او سوداګري یې وده وکړي. له شک پرته ځینې هېوادونه له امریکا سره د سیالۍ او په افغانستان کې د نفوذ زیاتولو په موخه هم غواړي چې د سولې په خبرو کې هڅې وکړي او فعال رول ولوبوي.

اوس چې په روسیه کې غونډه جوړېږي، له شک پرته چې د روسي ګټو د خوندي کولو او په افغانستان کې د نفوذ تر څنګ، دغه هېواد غواړي افغان جګړه ختمه کړي. دوی وېرېږي چې د جګړې دوام به د دوی تر کنټرول لاندې سیمو ته ناامني وغځوي. اوس چې زموږ حکومت په رسمي ډول اعلان کړی چې سوله ورته لومړیتوب نه لري او په دې ورځو کې ټاکنې ورته لومړیتوب لري، نو د سولې لپاره هڅې نه ښکاري. د ټاکنیزو لانجو اوږدوالی به د دې لامل هم شي چې د اوږده وخت لپاره د دولت په لومړیتوب کې سوله او د سولې هڅې نه وي. له همدې امله به سوله تر ډېره د بهرنیو هېوادونو او له حکومت څخه د باندې کړیو د فعالیتونو او هڅو محور وي. له همدې امله اوس په مسکو کې غونډه جوړېږي.

مسکو، چین او پاکستان د خپلو ګټو لپاره هڅې کوي چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې له سره پیل او بریالۍ شي. دوی به د خپلو هېوادونو ګټو ته هم ګوري، خو له بده مرغه په افغانستان کې حکومت او سیاسیون پر داسې ټاکنو بوخت دي، چې غوڅ اکثریت خلکو ورته "نه" وویل. اوس چې څومره موږ په ټاکنیزو چارو کې بوختېږو، دا پر سوله او د سولې پر هڅو همدومره منفي اغېز کوي. که د دغو ټاکنو په پایله کې حکومت هم رامنځ ته شي، په دې خاطر چې د خورا کمو خلکو په رایو ټاکل شوی، نو په سوله کې به یې پر دریځ هم منفي اغېز وکړي. پکار ده چې ولس او سیاسیون پر یوه ستر او پیاوړي محور کار وکړي، چې له افغاني اړخ څخه دغو خبرو ته ننوځي او د سولې په بریا او د افغاني ګټو په خوندیتوب کې رول ولوبوي.

# په ګرین ویلیج برید او ورسره د سولې خبرو په ټپه درېدل

لیکوال: احمدشاه راشد

**مقدمه**

د ۱۳۹۸ لمریز کال د سنبلې په ۱۱مه طالبانو پر ګرین ویلېج چې د کابل ولایت د نهمې حوزې اړوند سیمه کې موقعیت لري، د موټربم په واسطه ډله ییز برید وکړ چې په پایله کې یې د کورنیو چارو وزارت د اعلامیې پر اساس، په دغه برید کې ۱۶ ملکي وګړي وژل شوي او ۱۹۱ ټپیان شوي دي او د بهرنیو وګړو د مرګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي خپاره شوي.

دا حمله په داسې حال کې کېږي چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی په قطر کې له طالبانو سره د خپل نهم پړاو له پای ته رسولو وروسته کابل ته راغی او له افغان چارواکو سره د امریکا او طالبانو ترمنځ د هوکړې جزیات یې شریک کړل او له کابل نه قطر ته د او له قطر نه امریکا ته لاړ، څو د شویو پرمختګونو په اړه د ټرمپ اداري ته راپور ورکړي او همدارنګه له طالبانو سره د توافق په موخه خپلې اخري مشورې هم وکړي. دا وخت ښاغلی خلیلزاد ټینګار کوي چې له طالبانو سره د یوه داسې توافق په درشل کې دی، چې زورزیاتی لږ کړي.

دغه خونړۍ حمله د نړیوالو سازمانونو او لوړپوړو چارواکو له لوري غندل شوې ده. که څه هم د دې حملې مسوولیت وسله‌والو طالبانو منلی، خو د نړیوالو سازمانونو او چارواکو له لوري په عکس‌العملونو کې د طالبانو نوم نه دی اخیستل شوی. د طالبانو ډلې ویاند له اسوشیېټېډ پرس سره په خبرو کې ویلي، دا ډول حملې د سولې په خبرو کې د دوی قوي دریځ څرګندوي.

**ګرین ویلېج کلی**

ګرین ویلېج یا (زرغون کلی) د کابل په ختیځ کې د کابل ــ جلال اباد سړک شمال اړخ ته پروت، هغه کمپ دی چې بهرنیان په کې مېشت دي. دغې سیمې ته ځکه انګریزي نوم ورکړل شوی، چې زیاتره اوسېدونکي یې بهرنیان دي، نو له همدې امله یې طالبان د خپلو بریدونو موخه ګرځوي.

په تېرو پنځو کلونو کې دا څلورم ځل دی چې د ګرین ویلېج پر کمپ د طالبانو لخواه خورا پېچلي او زیان اړوونکي بریدونه تر سره کېږي. له دې وړاندې طالبانو د ۲۰۱۲ ز کال په اپریل، د ۲۰۱۳ ز کال په اکتوبر او د ۲۰۱۴ ز کال د نومبر په ۱۹مه هم پر ګرین ویلېج بریدونه کړي وو.

**د سولې خبرو له پیل سره تاوتریخوالی ولې زیاتېږي؟**

د مذاکراتو په بهیر کې هره ډله غواړي چې ډېر امتیاز تر لاسه کړي او پر دې ټول پوهېږو چې ممکنه نه ده چې د سولې په یوه هوکړه کې د ټولو خواوو غوښتنې په مساوي توګه ومنل شي، نو دغه ډول ډلې بیا د سولې د بهیر د خنډ او ځنډ لپاره متې رانغاړي او له بېلابېلو لارو چارو څخه ګټه اخلي څو روان بهیر تخریب کړي. د سولې په بهیر کې نه ګډون، ناوړه کړنو ته لاس اچول، نه همکاري، ناوړه تبلیغات، د خلکو تحریکول، جدي او شدید بریدونه، د تاوتریخوالي د کچې لوړاوی او په نورو ناوړه کړنو لاس پورې کول هغه څه دي، چې امتیاز غوښتونکې ډله ورڅخه کار اخلي، څو خپل ځان ځواکمن وښیي او په مذاکراتو کې برلاسي تر لاسه کړي. په دې وروستیو کې د جګړې شدت او د طالبانو شدیدې حملې کیدای شي په روانو مذاکراتو کې د لوړ امتیاز د تر لاسه کولو لپاره وي. دا چې د سولې په بهیر کې له ورانکارو عناصرو سره څه ډول چلند وشي، په اړه یې د سولې د پوهانو ترمنځ یو لوی بحث شته دی. "نیومن او ریچمونډ" پر دې نظر دي چې په سوله کې ښکیلې خواوې باید پر دې پوه شي چې د ورانکارو ډلو موخې، انګېزې، تکتیکونه، د تمویل سرچینې، شمېر او ډول څومره او څنګه دي. مطلب دا چې که غواړو له ورانکارو سره وړ او مناسب چلند وشي، باید د ورانکارو عناصرو یو دقیق تحلیل رامنځ ته شي. کله چې دا تحلیل تر سره شو، نو کولای شو د دوی دریځ، ګټې او موخې څرګندې کړو او بیا ورسره متناسب او وړ چلند تر سره شي. دا کار د منازعې د تحلیل په صورت کې هم تر سره کیدای شي.

**د سولې خبرو په جریان کې د ورانکارو ډلو د بریدونو د مخنیوي لارې چارې**

په ټولیزه توګه د ورانکارو ډلو د بریدونو د مخنیوي لپاره له څو ډوله ستراتیژۍګانو څخه کار اخیستل کیږي. د سولې په بهیر کې د ورانکارو حذف او یا دوی ته بشپړ مشارکت برابرول مهمې ستراتیژۍګانې دي. یانې د ورانکارو له کمزوره کولو څخه د دوی تر بشپړې ماتې هم په دغه ستراتیژۍګانو کې شاملې دي. "سټېډمن" د ورانکارو له درې ګوني ویش سره سم د دوی د ورانکارو کړنو د مخنیوي لپاره درې ستراتیژۍګانې معرفي کوي. لومړی هغه ورانکاري چې مشخصې او محدودې موخې لري، باید مشروع موخې یې په نظر کې ونیول شي او دوی ته هغه څه ورکړل شي چې رضایت یې وربانديې حاصلېږي. یانې دوی باید وهڅول شي چې له خپل مخالفته لاس واخلي. حریص یا ډېر امتیاز غوښتونکي ورانکاري باید د یو لړ نورمونو او قواعدو پر اساس مهار کړل شي، خبرې ورسره وشي او د خپل عمل له عواقبو هم خبر کړل شي. که یې ومنله، ګډون ته یې لاره هواره شي، که نه، باید د سولې له بهیره لرې وساتل شي. دویمه ډله ورانکاري چې د بشپړ ځواک او واک غوښتونکي وي او په هیڅ ډول امتیاز نه راضي کیږي، باید د مختلفو اړخونو لخوا تر فشار لاندې راوړل شي، که فشار پایله ونه لري، باید خنډې ته کړل شي، که دا هم نتیجه ورنه کړي، نو باید په ټولیزه توګه ورته د زور او ځواک له لارې ماتې ورکړل شي. په دې برخه کې بهرني او کورني ورانکاري دواړه شامل دي. له دریېم ډول ورانکارو سره سوله ممکنه نه ده او باید جګړه ورسره دوام وکړي. خو هیره مو نه وي چې کله چې دواړې خواوې سولې ته حاضرېږي، نو دریېم ډول ورانکارې کړنې نه تر سره کوي، بلکې ډېرې مهال پر دویم ډول وارنکاریو لاس پورې کوي څو ډېر امتیاز تر لاسه کړي، چې طالبان په دریېمه ډله کې راځي. دوی د بشپړ ځواک او واک غوښتونکي دي او دوی حاضر نه دي چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي، نو دوی ته پکار ده چې له امریکا سره تر توافق وروسته، په بین الافغاني خبرو کې افغان حکومت د طرف په ډول ومني.

**ټرمپ د جګړې له دواړو لورو سره ګوري**

ټاکل شوې وه چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ په کمپ ډېوېډ کې د افغان سولې په تړاو د طالبانو له مشرانو او له افغان ولسمشر محمد اشرف غني سره وګوري، خو داسې برېښي چې د امریکايي سیاسیونو ترمنځ د امریکا توافق له طالبانو سره خپل‌منځي اختلافات رامنځ ته کړي، چې د همدې خپل‌منځي اختلافاتو په پایله کې د افغان ولسمشر محمد اشرف غني او د طالب مشرانو سفر امریکا ته وځنډول شو.

بل د طالب مشرانو تګ امریکا ته هم نامعلوم و، د ځینو رسنیو په حواله چې د قطر د مشرانو د خولې یې لیکلي چې زموږ سره په دې اړه څه خبره نه ده شریکه شوې، که چېرې زموږ سفر امریکا ته وی، په دې اړه موږ مشورې او وخت ته اړتیا درلوده چې تر سره کړې مو وی.

همداسې د ملي یووالي حکومت په رهبرۍ کې هم د پلاوي پر سر مشکلات وو، چې د دغه پلاوي برخه به څوک وي.

**پایله**

په هر ځای کې چې د سولې خبرې یوې پایلې ته نېږدې کېږي، د دواړو لوریو لهخوا جګړه زیاتیږي، څو د خبرو په مېز زیات امتیاز تر لاسه کړي، په داسې حال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ همدې چارې خبرې نهم پړاو ته ورسولې، داسې چې هغه ورځې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد اعلان وکړ چې له طالبانو سره په اصولو کې هوکړه نهایي شوې او یوازې د ډونالډ ټرمپ تایید ته اړتیا ده. د دغو اصولو یوه برخه په ۲۰ اونیو کې له افغانستانه د ۵۴۰۰ امریکايي ځواکونو وتل هم دي. امریکا اوس په افغانستان کې شاوخوا ۱۴ زره پوځیان لري. طالبانو هم له خپل لوري دا ژمنه کړې چې د افغانستان له خاورې به اورپکي او یا جهادي ډلې پر امریکا او د دغه هېواد پر ګټو بریدونه نه کوي.

پلان داسې دی چې د امریکا او طالبانو له توافق سره به جوخت بین الافغاني خبرې اترې پیل کیږي، نو اوس پکار ده چې طالبان او افغان حکومت بین الافغاني خبرو اترو ته د زمینې برابرولو او کامیابېدو په موخه جګړه ورو کړي. تېر ۴۰ کلن ناورین وښودله چې تر هغه وخت پورې چې افغانان خپلې ستونزې خپله حل نه کړي، بل څوک یې نه حل کولای شي او نه یې حل کوي.

## د عدالت غوښتونکو ډله: وکیلان د بندي پخوانیو کمېشنرانو د خوشې کولو هڅه کوي

په افغانستان کې د تېر کال پارلماني ټاکنو ښځینه معترضې نوماندانې وایي، ښایي د ټاکنیزو کمېسیونونو پخواني غړي چې د محکمې لخوا پر بند محکوم شوي، د پارلمان د ځینو وکیلانو په هڅو خوشې شي.

د ټاکنیزو جرمونو پر وړاندې د عدالت غوښتونکو ډله چې له دغو معترضو نوماندانو جوړه ده، پرون یې په یوه خبري کنفرانس کې وویل، هغه کمېشنران باید له بنده خوشې نه شي چې د دوی په وینا د ولسونو اعتبار ته یې زیان رسولی دی. دغې ډلې له عدلي او قضایي ارګانونو غوښتي چې عدالت تامین کړي او د روغتیايي درملنې او یا جنسیت په لحاظ باید څوک له سزا معاف نه شي.

د دې ډلې په اعلامیه کې چې د هلمند یوې معترضې نوماندې نجیبې فایض ولوسته راغلي: «یوشمېر درغلګرو او جعل کارو وکیلانو چې د دغو ملي خاینینو په واسطه یې پارلمان ته لاره پیدا کړې، په بېلابېلو پلمو د دغو درغلګرو او جعل کارو کمېشنرانو د خلاصون هڅې کوي. موږ د دوی هڅې له یوې خوا د عدلي او قضایي ارګانونو د ملي باور او اعتبار د زیانمنېدو او له بلې خوا د مجرمینو د ملاتړ هڅه بولو».

دا په داسې حال کې ده چې د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې عدلي او قضایي مرکز ابتدایه محکمې د سنبلې په ۱۲مه، د ټاکنو او د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیونونو پخوانیو رییسانو په ګډون، لس تنه پخواني کمېشنران هریو پر پنځه پنځه کاله حبس محکوم کړل.

محکمې دوی له خپلو صلاحیتونو په ناوړه




ګټې اخیستنې او د یوه نوماند د پایلو پاڼې په تغییر او تبدیلولو مجرم پېژندلي دي.

خو د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون پخوانۍ غړې حمیرا حقمل پر دوی لګېدلې تورونه ردوي.

حقمل ویلي: «موږ چې روغتون ته انتقال شولو، هغه د وکیلانو په غوښتنه نه وه، بلکې د رولا غني او مشاورینو له کتلو وروسته انتقال شولو. موږ د عدلي او قضایي ارګانونو د استقلالیت غوښتنه کوو، نه د حکومت تر فشار لاندې».

دغه راز د ټاکنو خپلواک کمېسیون پخوانۍ غړې ملیحې حسن ازادي راډیو ته ویلي، د دوی روغتیايي وضعیت ته په کتو باید په ضمانت خوشې شي.

هغې ویلي: «دا زموږ قانوني حق دی چې په ضمانت خوشې شو. دا د هر تورن حق دی. زما روغتیايي وضعیت ښه نه دی، د ملا مهرو ته مې زیان اوښتی».

بلخوا لویې څارنوالۍ ویلي، د ټاکنیزو کمېسیونو پخوانیو کمېشنرانو قضیې ته به په پوره بې طرفۍ رسېدنه وشي.

د لویې څارنوالۍ ویاند جمشید رسولي ویلي: «موږ داډ ورکوو، لکه څنګه چې قضیه وڅېړل شوه، پاتې بهیر کې به هم په پوره شفافیت کار کېږي. دوی (د ټاکنیزو کمېسیونو پخواني غړي) عملاً په زندان کې دي». د یادونې ده چې په افغانستان کې د ۱۳۹۷ لمریز کال د ولسي جرګې په ټاکنو کې د پراخو درغلیو ادعاوې وشوې او د پایلو اعلان یې په میاشتو میاشتو وځنډېد.

وروسته ولسمشر غني د یوه فرمان له مخې پخواني لس تنه کمېشنران له دندو لرې او څارنوالۍ ته معرفي کړل.

# ولسمشریزې ټاکنې؛
## ځینو نوماندانو تر وخت مخکې د بریا اعلان کړی دی



ولسمشریزې ټاکنې تر سره شوې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون لا لومړنۍ پایلې نه دي اعلان کړې، خو ځینې نوماندان لا له وړاندې ځانونه بریالي بولي. دوی ادعا کوي چې په لومړي دور کې بریالي شوي دي او د دې اړتیا نشته چې ټاکنې دویم دور ته لاړې شي. له دې ډلې د ولسمشریزو ټاکنو نوماند عبدالله عبدالله هغه کس و، چې تېره ورځ یې خپله بریا اعلان کړه. سره له دې چې د ټاکنو کمېسیون د پایلو تر اعلان مخکې، د ځان بریالي اعلانولو او پایلې په اړه له څرګندونو نوماندان منعه کړي، خو عبدالله عبدالله خپله بریا اعلان کړه. له دې سره د امریکا متحده ایالتونو پر نوماندانو غږ کړی چې د ټاکنو کمېسیون پرېکړو ته منتظر شي او د خپلې بریا له اعلان باید ډډه وکړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې له مهالوېش سره سم به د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړي، خو تر هغه وړاندې نوماندان نه شي کولی خپله بریا اعلان کړي. د کمېسیون د دې سپارښتنې پر خلاف، د ولسمشر غني په مشرۍ ټاکنیز ټیم او عبدالله عبدالله مخکې له مخکې ځانونه بریالي بللي دي. اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله تېره ورځ په یوه خبري کنفرانس کې وویل، وروستۍ پرېکړه به کمېسیون اعلانوي، خو د معلوماتو له مخې دوی تر ټولو ډېره رایه ګټلې ده. نوموړي ویلي: ((موږ په لومړي دور کې تر ټولو لوړې رایې ګټلې دي. وروستۍ پایلې به کمېسیون اعلانوي، خو موږ ګټونکي یو. راتلونکی حکومت به د ثبات او همپالنې د ټیم له لوري مدیریت کېږي)).

تر دې وړاندې د ولسمشریزو ټاکنو د نوماند محمد اشرف غني لومړي مرستیال امر الله صالح په یوه مرکه کې ویلي، دوی ټاکنې ګټلې دي. د ده په خبره، د دولت ساز ټیم په ټاکنو کې تر ټولو ډېرې رایې وړې دي او دوی د دې ټاکنو ګټونکي دي. امرالله صالح ویلي: ((زموږ معلومات ښيي چې له شپېتو تر اویا سلنه رایه دولت ساز ټیم وړې ده. موږ د ټاکنو ګټونکي یو، موږ به راتلونکی حکومت کنټرولوو او د دایمي ثبات لپاره به هڅه کوو)).

پرون ناوخته یو ځل بیا امرالله صالح په یوه خبري کنفرانس کې راڅرګند شو او ټینګار یې وکړ، چې د ټاکنو پایلې باید ټاکنیز کمېسیونونه اعلان کړي. د ده په خبره، دوی قوانینو ته درناوی کوي او له همدې امله دې ته په تمه دي چې ټاکنیز کمېسیونونه خپل کارونه په پوره شفافیت تر سره کړي. صالح دغه راز وویل چې په ټاکنو کې یې مقابلو ټیمونو پراخه درغلي تر سره کړې ده او دوی یې په اړه شکایتونه د شکایاتو په کمېسیون کې ثبت کړي دي. نوموړي پر نورو نوماندانو هم غږ وکړ، چې خپل شکایتونه دې قانوني مراجعو ته وسپاري او په رسنیو کې دې د عامه اذهانو د مخشوشولو لپاره له دې مواردو استفاده نه کوي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزارت بیا د افغانستان پر ټاکنو غبرګون ښودلی دی. د دغه وزارت له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې په ټاکنو کې د افغانانو له ګډونه هرکلی شوی دی او پر نوماندانو غږ شوی چې قوانینو ته درناوی وکړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له نوماندانو غوښتي چې د پایلو تر اعلان مخکې دې ځانونه بریالي نه بولي او په دې توګه دې د کشمکش سبب نه ګرځي. دغه وزارت له ستونزو سره سره، په ټاکنو کې د افغانانو ګډون ستایلی دی.

په همدې اړه د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش هم پرون په یوه اعلامیه کې د ټاکنو د تر سره کېدو له امله افغانانو ته مبارکي ویلي وه او په ناامنۍ او ستونزو کې یې په ټاکنو کې د خلکو د ګډون هرکلی کړی دی.

---

## ټاکنو کمېسیون: د ۳۵٦ ولسوالیو حساس مواد د ولایتونو مرکزونو ته رسېدلي او نور به هم ژر ورسېږي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون مسوولینو ویلي چې د ۳۵٦ ولسوالیو د ټاکنو حساس مواد د ولایتونو مرکزونو ته رسېدلي دي او نور به هم ډېر ژر ورسېږي. دغه څرګندونې د ټاکنو کمېسیون د دارالانشا رییس حبیب الرحمن ننګ د تلې په ۸مه په پلازمېنې کابل کې د یوې خبرې غونډې پر مهال کړې دي.

هغه ویلي چې تر دې مهاله له ۳۵٦ ولسوالیو څخه حساس مواد د ولایتونو مرکزونو ته د ځمکې او هوا له لارې رسېدلي او پاتې نور هم د رسېدو په درشل کې دي.

ده ویلي چې د امنیتي ځواکونو په همکارۍ به له پلان سره سم، د ټولو ولایتونو حساس مواد کابل ته را انتقال شي.

ننګ زیاته کړې، تر اوسه داسې کوم مرکز نه شته چې د ټاکنو کمېسیون یې دې د چارو او کړنو په اړه خبر نه وي.

هغه زیاته کړې چې له ټول افغانستان څخه په انلاین ډول ۷۵۰۰ د پایلو پاڼې (رېزلشیټونه) مرکزي دفتر ته رسېدلې او د پاتې نورو به هم ورسیږي.

د ننګ په خبره، هېڅ نوماند حق نه لري چې د ټاکنو پایلې اعلان کړي، ځکه دغه کار یوازې د کمېسیون مسوولیت او حق دی.

د نوموړي په خبره، د شکایتونو تر څېړلو وروسته به د تلې په ۲۷مه د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان شي.

د یادونې ده چې د تلې په شپږمه د راتلونکي ولسمشر د ټاکلو په موخه ټاکنې تر سره شوې.

---

## اوچا: افغانستان د بشرپاله مرستندویانو لپاره تر ټولو خونړی هېواد دی

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر یا اوچا په یو تازه خپاره کړي راپور کې افغانستان د بشرپاله مرستندویانو لپاره تر ټولو خونړی هېواد بللی دی. اوچا ویلي، د ۲۰۱۹ ز کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې یې د سپټمبر تر ۱۱مې پورې په افغانستان کې پر بشري مرستندویانو د بریدونو ۳۱۹ پېښې ثبت کړې، چې نیمایي یې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د بشرپاله مرستندویانو پر وړاندې د تاوتریخوالي دي یا د هغوی پر مال او امکاناتو بریدونه تر سره شوي. اوچا ویلي، په دغه موده کې ۲۸ بشرپاله مرستندویان وژل شوي، ۳۱ ټپیان دي او ۳۳ نور تښتول شوي دي.

په راپور کې راغلي، بر بشري مرستندویانو بریدونو نه یوازې د اړمنو افغانانو ستونزو ته لاسرسی کم کړی، بلکې د بشرپالو ډلو لخوا خلکو ته د خدمتونو او مرستو رسولو کار یې هم له خنډ سره مخ کړی دی. راپور همداراز کاږي: «په کابل او کندهار هر ولایت کې ۳۱ پېښې شوې دي، دا دې نورو ولایتونو په پرتله تر ټولو خونړي ولایتونه هم دي، په ننګرهار کې بیا ۲۹ او بلخ کې ۲۰ پېښې شوې دي چې دا ولایتونه د خونړیتوب له پلوه په دویم او دریم مقام کې راځي».

اوچا همدارنګه خبرداری ورکړی چې که ناامني او تاوتریخوالی دوام وکړي، په افغانستان کې به سږ کال ۳.٦ میلیونه اړمن کسان لا له زیات بد حالت سره لاس او ګرېوان شي.

د ملګرو ملتونو اړوند د اوچا سازمان په خبره، دمګړۍ دوه پر درې برخې افغانان په جګړه ځپلو سیمو کې ژوند کوي، چې بشري حقونه یې نقض کېږي، د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي سره مخ کېږي او پر زیاتو غیر نظامي او روغتیایي تاسیساتو هم دلته تر بریدونه کېږي.

---

## هندي رسنۍ: په هند کې د وروستیو اورښتونو له کبله ۱۲۵ کسان مړه شوي دي

هندي رسنیو راپور ورکړی چې په دغه هېواد کې له تېرو څلورو ورځو راهیسې د سختو اورښتونو او سېلابونو له کبله د مړو شویو کسانو شمېر ۱۲۵ تنو ته رسېدلی دی.

اینډیا ټایمز هندي نشریې ویلي چې د دغو اورښتونو له کبله تر ټولو ډېر زیانونه د دغه هېواد په اتراپردېش ایالت کې اوښتي، چې له تېرې پنجشنبې راهیسې پکې ۸۰ تنه وژل شوي او په سلګونو کورونه ویجاړ شوي دي.

د دې نشریې په خبره، د هند په پاټنا ښار کې هم د درنو اورښتونو او سېلابونو له کبله خلکو ته ډېر ځاني او مالي زیانونه اوښتي دي.

په ورته وخت کې هندي چارواکو هم ویلي چې د دغه هېواد په بیهار ایالت کې د بارانونو له کبله له تېرو دوو ورځو راهیسې، ۲۹ کسان وژل شوي او د دغه ایالت ډېره برخه تر اوبو لاندې شوې ده. چارواکو ویلي چې په دغه ایالت کې بېړنی حالت اعلان شوی، سړکونه او ټولې لارې بندې دي او دغه راز په ډېریو ځایونو کې د برېښنا مزي هم پرې شوي دي.

د راپورونو له مخې، د دغه هېواد په ګجرات، راجستان، میدیا پردېش او اوتراکند کې درانه اورښتونه شوي چې تر دې مهاله پکې تر ۱٦ کسان وژل شوي او ډېر نور ټپي تم دي.

په ورته وخت کې د هند د هواپېژندنې اداري هم د رواني میلادي میاشتې تر پایه په دغه هېواد کې د نورو بارانونو د ورېدو او سېلابونو د راوتلو له کبله، د دغه هېواد د زیانمنو سیمو اوسېدونکو ته خبرداری ورکړی دی.

د هندي چارواکو د شمېرو له مخې، روان کال په دغه هېواد کې د بارانونو او سېلابونو له کبله ۱۱۹۰ کسان مړه شوي، خو تېر کال بیا دغه شمېرې تر ۱۲۱۱ پورې رسېدې.

د چارواکو په خبره، ژغورونکو ډلو تر دې دمه په بېلابېلو ایالتونو کې دوه میلیونه کسان ژغورلي او د دغه هېواد په نهو ایالتونو کې یې خوندي کمپونو ته لېږدولي دي.

د هند د هواپېژندنې اداري د معلوماتو پر بنسټ، له جون میاشتې تر سپټمبر پورې په دغه هېواد کې هر کال د اورښت کچه لوړېږي چې په دې وروستیو کلونو کې پکې په بې ساري ډول زیاتوالی راغلی دی. د دې اداري مسوولینو ویلي چې له همدې کبله په دې موسم کې د طبیعي پېښو له کبله مرګ ژوبله هم لوړېږي.



## د کتـــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

### څلورم څپرکی
### د وزیرستان جګړه




اټکل کېږي چې د۲۰۱۳ز کال تر فبروري میاشتې پورې امریکایي بې پیلوټه الوتکو په ۳۵۰ بریدونو کې له ۲۰۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ یاغیانو او ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې وه. د دې بریدونو ډېری یې چې شمېر یې ۲۲۵ ته رسېده، شمالي او جنوبي وزیرستان په نښه کړی و. په دې بریدونو کې د القاعدې مهم کسان ووژل شول. د وژل شوو کسانو لېست د کلونو په ترتیب په دې توګه دی؛ ابو حمزه، رابعه او هیثم الیمني په ۲۰۰۵ز کال، محسن موسی موتولي اتواح په ۲۰۰۶ز، ابو سلیمان جزیري، خالد حبیب، ابو لیس اللیبي، ابو خال کیني او ابو خباب المصري په ۲۰۰۸ز، عبدالله سعید اللیبي، صالح السومالي عثمان الکیني او سعد بن لادن په ۲۰۰۹ز، مصطفی ابو یزید، شیخ الفاتح او شیخ منصور په ۲۰۱۰ز، عطیه عبدالرحمن او ابو حفس الشاري په ۲۰۱۱ز، ابو یحیی اللیبي او ابو کاشه په ۲۰۱۲ز کال وژل شوي وو.

د اسلامي جهاد د اتحاد مشر، نجم الدین جلولوف چې د نظام الدین زلولوف په نوم هم یادېده او د ازبکستان د اسلامي غورځنګ مشر، طاهر یلدوشوف په ۲۰۰۹ز کال، په وزیرستان کې د ډرون الوتکو په بریدونو کې ووژل شول. بیت الله محسود، ابن امین، قاري محمد ظفر، حاجي عمر او قاري حسین محسود (مسید) په ۲۰۱۰ز کال، الیاس کشمیري په ۲۰۱۱ز کال، مولوي نذیر احمد، ولي الرحمن محسود او حکمت الله محسود په ۲۰۱۳ز کال ووژل شول. دا هغه مخکښ پاکستاني جهادي مشران وو چې د امریکایانو په هوایي بریدونو کې ووژل شول. د حقاني شبکې هغه مخکښ قومندانان چې په هوایي بریدونو کې ووژل شول، په دې توګه دي: جهانباز ځدراڼ په ۲۰۱۱ز کال، بدرالدین حقاني په ۲۰۱۲ز کال او سنګین ځدراڼ په ۲۰۱۳ز کال ووژل شول.

که څه هم پاکستاني رسنیو او عامو خلکو پر دې بریدونو نیوکې کولې، خو پاکستاني مشـرانو یې د پردې تر شا ستاینه کوله. دا ناشونې ده چې د پاکستاني څارګرو له همکارۍ پرته دې الوتکې دقیق اهداف په نښه کړي. په دې پښتني سیمو کې ترسره شوې سروې ګانې هم دوه ډوله نظریات وړاندې کوي. په جګړه ځپلو سیمو کې تر ډېره کره سروې ګانې نه ترسره کېږي.

په وزیرستان کې د بې پیلوټه الوتکو له بریدونو سره په عامو خلکو کې وېره خپره شوې، خو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړه سرچینې ټولې په یوه خوله نه دي، پاکستانۍ سرچینې وايي چې په زرګونو وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې، خو امریکایان بیا د خپلو بریدونو په ترڅ کې ډېرو کمو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله تاییدوي.

**د اسلام‌اباد لاسپوڅي**

میرزا عالم خان یو دنګ سړی و. هغه ته په عامه توګه خلکو د حاجي نوم کاراوه. د هغه پر سر روښانه اسماني رنګ لنګوټۍ، له خپل عادي حالت څخه نور هم جګ ښکاره کاوه. هغه ته خړ رنګه ږیرې او د مخ سخت پوټکي ځانګړې څېره ورکړې وه. د وزیرستان د یوې افسانې په حواله چې د هغه نیکه، د وانه سیمه له خپل کوم بل پښتون قوم څخه نیولې وه.

ویل کېږي چې میرزا عالم خان چې په ختېه احمدزی وزیر و، غوښتل یې چې وانه ته پرمختګ راولي او د خپلو خلکو د حقونو د ښېګڼې لپاره کار وکړي. هغه د وخت په تېرېدو سره د خپل قوم ملک ټاکل شوی و. هغه به د حکومت د قراردادونو او نورو خدمتونو په تنظیم کې مرسته کوله. نوموړي د ځایي ادارې سیاسي سېستم ته هم لاره لرله. د ځایي ادارې سېستم چې تر ټولو ځواکمنه اداره ده، فاټا ته یې د معاصر وخت د اولیګارشۍ بڼه ورکړې.

له هغې وړاندې چې وزیرستان ته القاعده لاړه شي، میرزا عالم خان ویلي وو چې په وانه کې به د مېوو او سبزیو لپاره سړې خونې جوړې کړي. هغه غوښتل چې وانه ته نږدې، له ګومل سیند سره یو د اوبو بند جوړ کړي. غوښتنه یې کړې وه چې د یوه پاخه سړک پر مټ دا سیمه له اسماعیل خان دېرې سره ونښلوي. په دې سیمو کې، د اباسین پر غاړو وزیر قومونه ځمکې لري، که دا سړک ودان شي، پر څنډو یې د محسودو قوم خلک هم ابادېږي. خو کله چې دې سیمې ته القاعده ورننکته شول، میرزا عالم خان یې اندېښمن کړ.

کله چې مې له نوموړي سره په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ز کلونو کې مرکه کوله، هغه زما پوښتنو ته ځان نه ټینګاوه، هغه به په عمومي توګه د نابلل شوو عرب او مرکزي اسیا د مېلمنو په اړه خبرې کولې. ښایي د هغه خاموشي د اسلام‌اباد د دوه مخي چلند له کبله وه. میرزا عالم خان به تل په اسلام‌اباد او پېښور کې په رسمي غونډو کې ګډون کاوه، هغه به له پاکستاني مشـرانو څخه اورېدل چې غواړي پښتني سیمې له القاعدې پاکې کړي. دا ډول غونډې به پاکستاني رسنیو هم خپرولې چې واشنګټن ته خپل پیغام ورسوي، خو د پردې ترشا به همدې پاکستانیو مشـرانو طالبان ستایل چې د یوه زبر ځواک پر وړاندې یې جنګ کاوه.

د ۲۰۰۵ز کال په جولای کې میرزا عالم خان له خپلو دوو وروڼو، یوه زوی او یوه وراره سره ووژل شو. وزیرستان کې دا ډول په سلګونو نور بریدونه هم ترسره کېدل، په دې کړکېچن حالت کې به یې قومونه له خپلو مشـرانو څخه بې برخې کول. د دې وژنو په تړاو هېڅوک هم نه نیول کېدل. **دوام لري...**

# ژاک شیراک

شفیق امیرزی

ژاک شیراک د تېرې پنجشنبې په سهار د سپټمبر په ۲۶مه له دې نړۍ لاړ. هغه اوږده موده ناروغي تېره کړه او د همدې ناروغۍ له امله په ۸٦ کلنۍ کې ومړ. د کلونو لپاره په فرانسه کې د سیاست او حکومتولۍ وتلې څېره وه. هغه د انسانپالنې، طبعیت دوستۍ، هنر پېژندنې، محافظه کارۍ، سیاسي لابیګرۍ او کله کله د بې پروایۍ یو ترکیب و. شیراک له زده کړو او سیاسي وړو فعالیتونو وروسته بیا په مطرح توګه پوره څلوېښت کاله د فرانسې په سیاسي جریانونو کې فعاله ونډه لرله. د فرانسې په سیاسي صحنه کې یې حضور درلود او مجلس کې له استازیتوب نیولې، تر لومړي وزارت، د اپوزیسیون جوړول او بالاخره دوولس کاله ولسمشري یې مهم فعالیتونه دي.

ځینو خلکو ورسره مینه لرله او ځینو کرکه ترې کوله. خو سره له دې یې په سیاست کې پوره تجربه لرله. د ترخو ماتو ښکل او د ښایسته بریاوو خوندونه یې له ځان سره لرل. همدې ماتو او بریاوو شیراک ته دومره با وقاره شخصیت ښښلی و، چې سم سیاسي پوخوالي ته رسېدلی و او ان سیاسي رقیبانو یې هم سخت درناوی ورته درلود. د ده پر ځای پرېکړو، قوي کارونو، ډېر وخت بې طرفۍ نوموړی د ډېرو خلکو په زړو کې یو باوقاره سیاستوال هک کړی و.

د ۱۹۷٦ ز کال په جون کې د جنرال دوګل پلویانو (د جمهوریت لپاره اجتماع) تاسیس کړه. د دوګل پلویانو له شیراک ملاتړ وکړ او شیراک د دې شورا او جماعت مشري کوله. په دې توګه نو دی نه یوازې د ټولو مخالفانو مشر او رهبر شو، بلکې د یوه پیاوړي سیاستوال په توګه راڅرګند شو.

شیراک په نوې ځوانۍ کې یو شورشي او له کشمکشونو ډک ژوند درلود. دی اووه کلن و چې د دویمې نړیوالې جګړې غږ یې په خپلو غوږونو واورېد. دی په ۱۹۳۲ز کال کې د نومبر په ۲۹مه په پاریس کې زېږېدلی دی. همدلته لوی شوی دی او د ژوند لومړنۍ سړې تودې همدلته ورباندې راغلې دي.

د ۱۹۵۰ ز کال په لومړیو کې شیراک اوولس کلن و او په بشري فعالیتونو یې پیل وکړ. د ستاکهلم په یوه غونډه او ټولپوښتنه کې یې د اټومي وسلو د پراختیا ضد پرېکړه لیک باندې لاسلیک وکړ. کله یې چې خپل ډیپلوم واخیست، نو غوښتل یې د ټولې نړۍ په سمندرونو کې سفر وکړي. خو پلار یې د واک تنده لرله او غوښتل یې زوی یې ښې لوړې ښوونځي ته ورسېږي.

بالاخره د ۱۹۵۰ ز کال په لومړیو کې یې د پاریس د سیاسي مطالعاتو یا (سیانس پو) مرکز کې نوملیکنه وکړه. خو په دې وخت کې یې لا هم خپله لار نه وه پیدا کړې. په دې دوره کې یې د یو څه وخت لپاره له کمونیست ګوند سره اړیکې پیدا کړې. په همدې وخت کې یې د کمونیست ګوند ورځپاڼه پلورله او د ګوند په غونډو کې یې ګډون کاوه. دی وايي چې د سولې او برابرۍ لپاره یې ارمانونه لرل، نو ځکه یې کمونیست ګوند غوره کړ. دی پخپله وايي، ((دا چې کمونیست ګوند مې غوره کړ، علت یې هم زما سوله پال ارمانونه وو)).

وروسته د ۱۹۵۳ ز کال په اوړي کې امریکا ته لاړ. هلته د امریکا چاپېریال او راشې ورشې پرې اغېز وکړ. د امریکا له سیاسي وضعیت، فرهنګي چارو او هنر سخت اغېزمن شو. پاریس ته چې را وګرځېد، له برنادت نومې نجلۍ سره یې کوژده وکړه. هغه هم د پاریس په سیانس پوه کې محصله وه. په ۱۹۵٦ ز کال کې یې د خپلې کورنۍ د خوښې پر خلاف له برنادت سره واده وکړ. د ۱۹۵٦ ز کال د مارچ بیا د ۱۹۵۷ ز کال تر جولای پورې په داسې حال کې چې د فرانسې د ملي ادارې د پوهنتون زده کوونکی و، الجزایر ته لاړ او په جګړه کې یې ګډون وکړ او په همدې جګړه کې دی ټپي هم شو.

له جګړې بېرته فرانسې ته را ګرځي او زده کړې یې بشپړوي. د زده کړو تر بشپړولو وروسته په سیانس پو مرکز کې د یو څه مودې لپاره استادي کوي. د ۱۹٦۲ ز کال په جولای کې د لومړي ځل لپاره دولتي کارونو کې ونډه اخلي. په لومړي سر کې د دولت د ټول مدیر په دفتر کې و. څو میاشتې وروسته د لومړي وزیر ژرژ پمپیدو دفتر ته ځي او هلته کار پیلوي. په دې وخت کې جنرال دوګل د فرانسې ولسمشر و. په ۱۹٦۵ز کال کې د فرانسې د یوه ښار د ښاري شورا مشر وټاکل شو. هلته یې مهم کارونه وکړل او د یوه بریالي ښاروال دنده یې تر سره کړه. پمپیدو به شیراک ته د بلډوزر لقب کاراوه او په خبره یې هغه ډېر کار خوښی او فعال سړی دی. تر سلاکارۍ وروسته یې د فرانسې د دولت هیئت ته لاره پیدا کړه. دا نو د شیراک لپاره د سختو کارونو د پیل لومړي ګامونه وو، خو هغه ډاډه و چې د ډېر کار ظرفیت لري او د دې وړ دی چې تر هر څه بریالی را ووځي. له همدې ځایه د پمپیدو په حکومت کې ببلابېلو لوړو څوکیو په تېره وزارتونو ته ورسېد.

په ۱۹۷۴ز کال کې پمپیدو مړ کېږي. په دې وخت کې پمپیدو د فرانسې ولسمشر و، خو ناڅاپي مړینه یې د دې سبب شوه چې په فرانسه کې تر وخت مخکې ټاکنې وشي. په دې ټاکنو کې ژاک شیراک مهم او ټاکونکی رول درلود. د ده په پوره همکارۍ، ملاتړ او لاربښوونه والري ژیسکار په ټاکنو کې بریالی شو او د فرانسې د ولسمشرۍ چارې یې په غاړه واخیستې. شیراک په دې وخت کې خپل ګوند ته شا کړه. له همدې امله یې له والرې پوره ملاتړ کاوه او د ګوند پر ځای یې د هغه واک ته رسول مهم بلل.

نوي ولسمشر د لومړي ځل لپاره ژاک شیراک د لومړي وزارت څوکۍ ته ورساوه. د ۱۹۷۴ ز کال په جولای کې ژاک شیراک د فرانسې لومړی وزیر و او د نړۍ له بېلو هېوادونو سره یې د ښو اړیکو جوړولو چارې او فعالیتونه پیل کړل. له دې سره جوخت په حکومت کې ځینې فعالیتونه او مسایلو وو چې د ده او ولسمشر تر منځ ورباندې د نظر اختلاف و. د فرانسوي رسنیو په خبره، د دوی دا خوږه ملګرتیا ډېره اوږده نه شوه. نړیوالو ستونزو، په فرانسه کې کمزوري اقتصاد او نورو مسایلو د شیراک او والرې ترمنځ د نظر اختلاف نور هم ژور کړ.

په ۱۹۷٦ز کال کې ژاک شیراک واک پرېښود او د هغه وخت ولسمشر والرې وویل، چې شیراک د چارو د مدیریت وړتیا نه لرله، ستونزې یې نه شوی حل کولی، نو ځکه یې له خپلې دندې استعفا ورکړه. د همدې کال په پارلماني ټاکنو کې شیراک له کوم زحمت او تکلیف پرته مجلس ته بریالی شو. په همدې کال کې یې د جنرال دوګل د پلویانو په ملاتړ یو ګوند جوړ کړ او پخپله یې مشري په غاړه واخیسته.

په همدې موده کې یې دوه ځله یو ځل په ۱۹۸۱ز کال او بل ځل په ۱۹۸۸ز کال کې هڅه وکړه چې د فرانسې ولسمشر شي. خو په دې وخت کې د سوسیالیستانو د واکمنۍ طلایي دورې وې. فرانسوا میتران د سوسیالست ګوند مشر د کاریزماتیک شخصیت د لرلو له امله پر خپلو ټولو حریفانو ساحه تنګه کړې وه. دی مخکښ و او هېچا ورسره رقابت نه شوی کولی.

د لومړي ځل لپاره په ۱۹۸۱ز کال کې شیراک په همغه لومړنۍ مرحله کې د ټاکنو له سیالیو پاتې شو. دا د دې سبب نه شوه، چې هغه دولتي دنده پرېږدي. په ۱۹۸۸ز کال کې په داسې حال کې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره نوماند شو، چې کېڼ لاسی سیاستوال ولسمشر او د چپیانو پلوی لومړی وزیر و. دا ځل یې دویم پړاو ټاکنو ته لاره پیدا کړه، خو بیا یې هم د میتران پر وړاندې ماتې وخوړه او د ولسمشرۍ ارمان یې داځل هم پوره نه شو.



په ۱۹۹۵ز کال کې د میتران د ولسمشرۍ پرله پسې اووه کلنه واکمني ختمه شوه. دا نو د ژان شیراک د نوماند کېدو لپاره تر ټولو غوره فرصت و. بالاخره په شپېته کلنۍ کې ژان شیراک د فرانسې دوه ویشتم ولسمشر شو. هغه همدا چې واک ته ورسېد، نو متفاوت سیاست یې پیل کړ. په ځوانۍ کې یې د اټومي وسلو د له منځه وړلو او محدودیت لپاره مبارزه کوله، خو چې د فرانسې ولسمشر شو، د څو اټومي ازمویښتونو امر یې ورکړ.

له کشمکشونو سره سره د ژان شیراک د ولسمشرۍ لومړۍ دوره پای ته ورسېده. دا وروستۍ دوره وه، چې د فرانسې یو ولسمشر د اوو کلونو لپاره په واک کې پاتې کېږي، تر دې وروسته د ولسمشرۍ موده پنځو کلونو ته را ټیټه شوه. په دې مانا چې شیراک د فرانسې د ولسمشر واک له اوو کلونو پنځو کلونو ته راټیټ کړ.

د ۲۰۰۲ ز کال په ټاکنو کې سوسیالستانو دومره طالع نه لرلې. د دوی نوماند ژوسین په لومړۍ مرحله کې له ټاکنو حذف شو. ژاک شیراک او ژان ماري لوپن د ټاکنو دویم پړاو ته لاره پیدا کړه. په دې وخت کې د افراطي ملي پالو د واکمنېدو وېره ډېره وه. لوین د دوی استازیتوب کاوه. سوسیالستانو د ملي پالانو له واکه وېره لرله، نو سره له دې چې شیراک یې د خپلو ارمانونو د پوره کولو جوګه نه ګاڼه، له ده یې ملاتړ وکړ. په دې توګه نو د ژاک شیراک په ملاتړ یو بې مخینې او ستر ائتلاف جوړ شو. نوموړي په دې ټاکنو کې څه باندې ۸۲ سلنه رایې وګټلې چې د فرانسې په تاریخ کې یې ریکارډ جوړ کړ. په دې ټاکنو کې بېرته د فرانسې ولسمشر شو، په الیزه ماڼۍ کې پاتې شو او د ولسمشرۍ دویمه دوره یې پیل کړه. د افراطي ملي پالو لپاره دا تاریخي ماتې د زغملو نه وه. د ۲۰۰۲ ز کال تر ټاکنو لږ وروسته دوی په یو لړ نظامي مراسمو کې د ژاک شیراک د وژلو هڅه وکړه، خو نوموړی له دې پېښې روغ ووت. د شیراک د ولسمشرۍ لا یو کال نه و تېر چې د عراق او امریکا جګړه ونښته. دی تر پایه پر عراق د امریکا د برید مخالف و.

په ۲۰۰۵ ز کال کې په داسې حال کې چې فرانسه د ټولنیزو کشمکشونو په اور کې ډوب وه، شیراک له مغزي سکتې سره مخ شو. ډېرو دا فکر کاوه، چې د پمپیدو برخلیک د فرانسې دغه ولسمشر ته هم راغلی دی، خو څو ورځې وروسته ټلویزیوني شبکو ژاک شیراک وښود چې جوړ و او له روغتونه رخصتېده. خو په هر حال د خپلې واکمنۍ په دوو وروستیو کلونو کې هغه له جسمي او سیاسي نظره کمزوری شوی و. په دې وخت کې نیکولا سرکوزي چې ډېر مشهور شوی و او وخت ناوخت به پر رسنیو راڅرګندېده، د واک څښتن شو. شیراک د ګوند واک له دې وروسته سرکوزي ته ورکړ او هغه د چارو پر سمبالښت پیل وکړ. په ۲۰۰۷ ز کال کې چې سرکوزي الیزې قصر ته ننوت، نو د شیراک د سیاسي فعالیتونو څلوېښت کلنه دوره هم پای ته ورسېده.

شیراک د تقاعد پر مهال د آلزایمر د ناروغۍ له امله په عمومي مجلسونو کې نه ظاهرېده. په ۲۰۱٦ ز کال کې د خپلې لور پر مړینه سخت خواشینی شو او له ژور خپګان سره مخ شو. جسمي وضعیت یې په وروستیو کلونو کې خورا د اندېښنې وړ و، کله به په روغتون او کله به په کور کې و. اوس یې تر مړینې وروسته دا جمله د ډېرې فرانسویانو په خوله شته چې وايي، د فرانسې یوې برخې مور پرېښودو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۵ |
| € | ۸۵,٦۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۵ |
| £ | ۹۵,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# له دندې ستړی شوی یم، څه وکړم؟


ژباړه: امان الله «حنیفي»

سلام ملګریه! ستړی مه شې! پوهېږم له دندې ستړی شوی یې او په بل کار پسې ګرځې. ډېر ښه وخت مې ولیدې، غواړم څو هغه لارې چارې درته وښیم چې نور له دندې ستړی او خسته نه شې. پوهېږم چې ځینې وخت به دې له دندې بد راځي او په زړه کې به له هغه سره یو ډول نفرت لرې، زه دا هرڅه درسره منم، زه ستا احساساتو ته درناوی لرم او دا منم چې هر انسان له دندې او کار د خوند اخیستو حق لري. غواړم تا ته ځینې هغه لارې چارې وښیم او په اړه یې له تا هم ځینې خبرې واورم، چې نور ونه وایې چې له دندې ستړی یم، دفتر ته مې زړه نه کېږي، د کمپیوټر او میز په لیدو مې حواس ګډوډېږي. ته دا کارونه وکړه:

**۱ـ له ځانه یې پیل کړه!**

په یاد دې دي، اوله ورځ چې دې دا دنده لټوه، د پیدا کېدو یا اخیستو دلیل یې څه و؟ د دې پوښتنې په اړه ښه فکر وکړه!! د ښه کارکوونکي په صفت له ځان سره مینه، د پیسو ګټل، د تجربې لاسته راوړل او یا هم دا چې وشې کولای په ازاد ډول ژوند وکړې او یا هم په لسګونو نور داسې دلایل د دې سبب شوي، چې دغه دنده پیدا کړې. دا ښه خبره ده او دا دې حق هم دی، ځکه دا ټول موارد د یو کار د شروع لپاره مهم دي. څو کلونه کېږي چې وایې، له دندې ستړی یم، له دندې نفرت لرم؟ تاسې باید یو کار وکړئ.

هغه دا چې تاسې باید لومړی خپل ځان وپېژنئ. کېدای شي دا خبره لومړي سر کې درته یو څه نا اشنا ښکاره شي، چې د ځان پېژندل یانې څه. خو په هر صورت، ځان پېژندل، خپلې کمزورې او پیاوړې نقطې لټول، خپل مهارتونه تشخیصول او بالاخره د کار او دندې له سرته رسولو سره مینه هغه څه دي، چې ستاسې مینه له کار سره زیاتوي او نه مو پرېږدي چې له دندې ستړي شی. خو د دې برعکس، که خپلې وړتیاوې ونه پېژنی، مهارتونه مو پیاوړي نه کړی، ښکې اړیکې جوړې نه کړی او له خپلې دندې سره مینه ونه لری؛ لرې نه ده چې له دندې به ستړي او خسته شی. دا چې تاسې وایی، له دندې ستړی شوی یم، یوه ژوره مانا لري، هغه دا چې تاسې له خپلو وړتیاوو په پوره ګټې اخیستنې کې پاتې راغلی یاست. ښه ده چې د ځان ښه پېژندلو لپاره د خپلو پیاوړو او کمزور نقطو د یادانښت او وروسته یې د پیاوړي کولو او له منځه وړلو لپاره لاس پکار شی.



له بده مرغه، زه چې کله له ډېرو هغو خلکو سره چې لومړی ځل دې دندې او کار په لټه کې وي، مشورې کوم، لومړي سر کې ترې پوښتم، ولې کار لټوی؟ څنګه کار مو خوښېږي؟ دوی ډېری یې وایي، مهمه نه ده، چې هر کار را پیدا شي کوم یې. ځینې خو یې وایي، فقط پیسې وګټه، کار مهم نه دی، نر هغه دی چې پیسې وګټي. دوی لومړیو کې د پیسو د پیدا کولو مینې ښکار کېږي او بیا چې کله یو څه وخت وروسته ترې وپوښتم، چې ایا په دنده کې خوښ یاستی، له بده مرغه د ډېریو ځواب یې منفي وي. دوی څو کلونه وروسته افسوس کوي چې ای کاش له هغه لومړي وخته یې د خپلې خوښې وړکار شروع کړی وی. دوی وایي، په دې کار کې مې یو څه وخت ښې پیسې وګټې، اوس مې زړه ترې تور دی، په زړه مې نه دی جوړ او هېڅ مې نه خوښېږي چې نور په دې کار او دنده کې پاتې شم. د دندې پیدا کولو په لومړي سر کې ډېر پام وکړئ، چې د پیسو ښکار نه شی، داسې دنده او کار پیدا کړئ چې په زړه مو جوړه او راتلونکی مو تضمین کړي.

**۲- دندې ته مو له یوې نوې زاویې وګورئ**

داسې فرض کړئ چې تاسې په یو شرکت کې پر دنده وګومارل شوی. کاري امتیاز مو هم هسې نه دی چې تاسې پرې راضي شی. تاسې به دری کاله همدا دنده کوی، کاري امتیاز به مو هم په کلني ډول ډېره کم مقدار لوړېږي، تر دریو کلونو وروسته به بیا هم تاسې پردې ونه توانېږی چې یو وړوکی کور واخلی او له خپلې مېرمنې سره خوشاله ژوند پکې وکړی. همدا ده چې تاسې له دندې ستړي کېږی او دا خبره مو په خوله راځي چې کار او دندې مو زړه وهلی دی، له دې امتیازه ولا که هېڅ هم جوړ شي.

په دویم حالت کې تاسې داسې فکر وکړئ، چې تاسې به په دغه شرکت کې دری کاله کار کوی او هغه تجربه چې دلته یې لاسته راوړی، خپله راتلونکې به پرې ښه کړی او له ځان نه به یو پیاوړی کارکوونکی جوړ کړی. دا وخت ستاسې موخه پیسې نه دي او په کم امتیاز هم کار کوی، یوازې غواړی چې تجربه لاس ته راوړی او په راتلونکي کې ځان پر یو فوق العاده کارکوونکي بدل کړی.

هماغه دي چې په دې ذهنیت سره کارځای ته ورتګ مو له کار کولو سره مینه زیاتوي او حتی ځینې وخت له خپل ټاکلي حریم څخه اضافه کارونه هم کوی. دا وخت (له دندې ستړی یم) خبره پر (له دندې خوند اخلم) اوړي. اوس تاسې له ځان سره فکر وکړئ، څنګه کولای شی د خپلې دندې په اړه بد نیت پر ښه هغه واړوی، څو ترې خوند واخلی.

**۳- حد اقل یوه ورځ په پوره مینه کار وکړئ**

له دندې ستړی یم، له هغه مې بد راځي؛ دا هرڅه درسره منم، خو یوه ورځ له ځان سره ژمنه وکړئ، چې په پوره مینه او علاقې سره به کار کوی. همدا ساده سپارښتنه کېدای شي په ژوند کې د ډېرو مواردو لپاره ګټوره تمامه شي. د بېلګې په ډول، تاسې د کار په پیل کې له خپلو همکارانو سره په ښه ډول مخ شی، وروسته په ټوله انرژۍ پر کار پیل وکړئ، هغه ده چې لږ لږ به د راحتۍ احساس وکړی. دا نورو ته ستاسې لخوا یوه مثبته انرژي لېږدوي او له هغه لوري تاسې ته هم ورته عمل کېږي. دا چې تاسې کار په ښه ډول سرته رسولی دی، هغه ده چې مدیر به هم له تاسې سره ښه رویه کوي او له هغه لوري به تاسې تشویق شی. دا خبره بالاخره ورځو، ورځې میاشتو او میاشتې کلونو ته اوړدېږي، چې تاسې له خپلې دندې خوند اخلی.

**۴- د اړیکو ټینګول مهارت زده کړئ**

کله چې له هغو کسانو سره خبرې کوم، چې وایي له دندې ستړي او یا زړه توري دي، ډېری یې داسې کسان دي چې که یې په لسګونو وارې نور هم په نورو ځایونو کې پر دنده وګومارې، دوی به بیا هم دا خبره کوي. له دوی به ځان هېر وي او په نورو پسې به یې را اخیستې وي چې دوی ته وګوره په زړه کې یې د رحم ټکی هم نشته، موږ ته هېڅ ارزښت نه راکوي، یوازې ځان یې په زړه دی، څنګه دا او څنګه ها نه کوي... همدا ده چې بالاخره له دندې ورو ورو زړه توري کېږي. په داسې حال کې چې د یوې ښې اړیکې په ټینګولو یا له همکار یا له مدیر سره کولای شي د ډېرو بدو خبرو مخنیوی وکړي.

له همدې نن ورځې خپلو اړیکو ته پام وکړئ، وګورئ چې له دې لارې خو به له دندې زړه توري نه یاستی؟ خو پام مو وي چې دا کار په یوه ورځ نه کېږي. کېدای شي کلونه کلونه مو دا اړیکې ناسمې پاللې وي او اوس یې بدلول درته یو څه ستونزمن وي، خو دا د اندېښنې وړ خبره نه ده، په ورو ورو دا چاره اصلاح کړئ.

# کانونو وزارت: د کانونو د ساتنې ګډې کمېټې په ۲۲۰۰ ساحو کې د ناقانونه کیندنو مخنیوی کړی

د کانونو او پټرولیم وزارت ویلي چې د کانونو د ساتنې ګډې کمېټې له شاوخوا دوو کلونو راهیسې، په ۲۲۰۰ ساحو کې د کانونو د غیرقانوني کیندنو مخه نیولې ده.

د کانونو د ساتنې ګډه کمېټه د کانونو او پټرولیم وزارت، کورنیو چارو او ملي دفاع وزارتونو، ملي امنیت ریاست، ولسي جرګې، د طبیعي سرچینو او چاپېریال کمېټې، د چاپېریال ساتنې د ملي ادارې او امنیت شورا له استازو جوړه شوې ده.

د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند عبدالقدیر مطفی پژواک خبري اژانس ته ویلي، دغه کمېټه د کانونو د غیرقانوني استخراج او په هغو سیمو کې چې قیمتي ډبرې او کانونه موجود وي، د کانونو د خپلسرو کیندنو، د منرالي موادو د قاچاق د لارو محدودولو او معدني موادو د قاچاقبرانو د نیولو او پېژندلو په موخه جوړه شوې ده.

هغه زیاته کړې، دې کمېټې تر اوسه د نهو ولایتونو په ۲۲۳۰ سیمو کې د ناقانونه کیندنو مخه نیولې ده.




د سرچینې د معلوماتو له مخې، دغې کمېټې د کابل په ۵۸۴، د پنجشېر په ۲۳۰، د کونړ په ۷۰، د پروان په ۱۰۹، د لغمان په ۷۵، د کاپیسا په ۳۷، د ننګرهار په ۲۲٦، د هرات په ۲۸ او سمنګان د دره صوف د ډېرو سکرو په ساحه کې د ۸۷۱ ناقانونه کیندنو مخه نیولې ده.

د کانونو او پټرولیم وزارت ویلي چې په نورو ساحو کې چې ناامنه وې او د وزارت کارکوونکي ورته لاسرسی نه لري، هم ناقانونه کیندنې تر سره کېږي.

دغه راز مطفي ویلي، د کانونو د امنیت ساتنې لپاره ۳۰۰۰ کسیزه قطعه جوړه شوې او دغه سرتېرې د مس عینک کان، د امو سیند د نفتي حوزې، د مزار–شبرغان پایپ لاین او د بدخشان د کران و منجان لاجوردو د کان د ساتنې لپاره ګومارل شوي دي.

د ده په خبره، د کانونو د ساتنې ګډه کمېټه د غیرقانوني کیندنو د مخنیوي لپاره د لازمو اقداماتو ترڅنګ، د هغو کاني سیمو د کمېدو لپاره چې د خطر له ګواښ سره مخ دي، پلان جوړوي.

نوموړي ویلي: «د کانونو او پټرولیم وزارت د دې کمېټې په همکارۍ د هغو سیمو چې غیرقانوني کیندنې پکې تر سره کېږي او یا د خطر له ګواښ سره دي، نوملړ جوړ او د ملي امنیت له شورا سره یې شریک کړی دی، څو یې یاده شورا په عملي کېدو د ناقانونه کیندنو مخه ونیسي».

دغه راز نوموړي د نوملړ په اړه له جزیاتو پرته ویلي، کمېټې د هغو کسانو لېست چې په غیرقانوني کیندنو کې لاس لري، هم ملي امنیت شورا ته سپارلی دی.

د مطفی په خبره، کله چې د معدنکارۍ یوه پروژه د استخراج لور ته ځي، دغه کمېټه مسوولیت لري چې په هغې ساحه کې یې د امنیت ساتنې لپاره اقدام وکړي او د کانونو وزارت د هغو کارکوونکو امنیت وساتي چې سروې تر سره کوي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily




سه شنبه د ۱۳۹۸ د تلې نهمه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر لومړۍ | ۴۳۷مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۷ | ۳۰ | ۳۳ | ۲۸ | ۳۴ | ۳۰ |
| ۱٤ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۵ | لمر ختل ۰۵:٤٦ | ماسپښین ۱۱:٤٤ | مازدیگر ۰۳:۰۷ | ماښام ۰۵:٤۰ | ماخوستن ۰۷:۰٤

## نړۍ




## د سعودي ولیعهد: که نړیواله ټولنه د ایران پر وړاندې اقدام ونه کړي، د تېلو قیمتونه به ډېر لوړ شي



د سعودي ولیعهد محمد بن سلمان له سي بي اېس ټلوېزیون سره په مرکه کې ویلي، د ایران پر وړاند ډیپلوماتیک انتخاب تر پوځي هغه غوره دی.

خو هغه خبرداری ورکړی چې که نړیواله ټولنه د دغه هېواد پر وړاندې لازم اقدامات ونه کړي، ممکن نړیوال بازار ته د تېلو وړاندې کول وځنډېږي، چې په دې سره به د سون توکو په بیه کې د پام وړ زیاتوالی راشي.

هغه ویلي: «که نړۍ د ایران د مخنیوي لپاره پرېکنده او پیاوړي گامونه پورته نه کړي، د نړۍ گټې به لا ډېرې له خطر سره مخ شي. د تېلو عرضه به وځنډېږي، بیه به یې دومره زیاته شي، چې موږ به په خپل ژوند کې لیدلې نه وي».

هغه دغه راز ویلي چې په منځني ختیځ کې د ایران لاسوهنو ته باید له ډیپلوماتیکو لارو د پای ټکی کېښودل شي.

هغه یو ځل بیا د سعودي د تېلو پر مرکزونو د برید پړه پر ایران اچولې او دغه کار یې د دغه هېواد احمقانه هڅه بللې ده.

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې سپټمبر میاشتې په ۱۴مه د سعودي د ارامکو د تېلو پر سترو تاسیساتو د برید له کبله، د دغه هېواد د تېلو تولید نیمایي ته ټیټ شو.

تر دې وړاندې سعودي د ورځې لس میلیون بېرله تېل تولیدول، خو له برید وروسته دا کچه له پنځو میلیونو ټیټه شوه.

## اردوغان: ترکیه به د جمال خاشقجي د وژنې په تړاو څېړنو ته دوام ورکړي



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان ویلي، چې ترکیه به د عرب خبریال جمال خاشقجي د وژنې په تړاو خپلو څېړنو ته ادامه ورکړي.

د ترکیې د اناتولي خبري اژانس د راپور پر بنسټ، اردوغان ویلي چې لاهم د نوموړي د مړینې په تړاو ډېرې پوښتنې بې ځوابه پاتې دي چې د سعودي عربستان محکمې یې باید ځواب ووایي.

هغه ویلي: «تر کومې چې موږ معلومات لرو، د سعودي محاکمو لخوا د خاشقجي دوسیه سمه نه ده څېړل شوې، لاهم د نوموړي د وژنې په تړاو ډېرې پوښتنې بې ځوابه پاتې دي، موږ له سعودي څخه د یوه ملگري هېواد په توگه غواړو چې په دې تړاو هر اړخیزې څېړنې وکړي او له مجرمینو سره قانوني چلن وکړي».

هغه دغه راز ویلي چې د جمال مړینه نه یوازې دا چې یو ناورین و، بلکې د دوو هېوادونو ترمنځ د ډیپلوماټیکو اړیکو خلاف کار و.

دا په داسې حال کې ده چې د واشنگټن پوست ورځپاڼې خبریال جمال خاشقجي تېر کال په استانبول کې د سعودي په کونسلگرۍ کې ووژل شو.

د نوموړي له وژلو وروسته، پر سعودي چارواکو او د دغه هېواد پر ولیعهد محمد بن سلمان د امریکا په گډون، د بېلابېلو نړیوالو ادارو له لوري فشار راوړل شو چې د هغه د قتل عاملین ژر تر ژره محاکمه کړي.

## میلر: هماهنگی میان نهادهای امنیتی در انتخابات بی‌پیشینه بود



جنرال اسکات میلر، فرمانده کل نیروهای خارجی در افغانستان، گفته است که یکپارچه‌گی میان رهبری نهادهای امنیتی را رمز موفقیت این نیروها در تأمین امنیت انتخابات ریاست جمهوری این کشور می‌داند و هماهنگی میان رهبری وزارت‌های امور داخله، دفاع ملی و ریاست عمومی امنیت‌ملی در انتخابات ریاست‌جمهوری کنونی در چهار انتخابات گذشته بی‌پیشینه بوده است.

از سوی دیگر این جنرال امریکایی می‌گوید که تاکنون هیچ دستوری برای کاهش نیروهایش در افغانستان دریافت نکرده است.

جنرال میلر می‌گوید که حمله بر مرکز شماری از ولایت‌ها و راه اندازی حمله‌های پیچیده در شهرهای بزرگ هدف طالبان بود، اما نیروهای امنیتی نگذاشتند تا این گروه به این هدف برسد.

آقای میلر گفت: «من انتخابات را درسال ۲۰۰۹ را مشاهده کردم، من انتخابات ۲۰۱۴ و انتخابات پارلمانی ۲۰۱۸ را نیز دیدم. از لحاظ آماده‌گی‌ها برخی از مشابهت‌ها در این انتخابات بودند، اما آن چه در انتخابات ریاست‌جمهوری کنونی دیدم، یک پارچه‌گی رهبری امنیتی بود. وزیر خالد، وزیر اندرابی و رئیس امنیت ملی ضیا سراج، باهم کار کردند. آنان منابع را در سراسر کشور به سطح ولایت‌ها و سطح محل‌ها باهم شریک ساختند».

جنرال میلر در بخشی دیگری از سخنان‌اش می‌گوید که تاکنون هیچ دستوری از پنتاگون برای کاهش شمار نیروهای امریکایی در افغانستان دریافت نکرده است.

آقای میلر گفت: «ما همیشه به دنبال ارزیابی وضع نیروهای مان استیم و حضور ما وابسته به تهدیدها و خواست مردم افغانستان است. پس ما این اصول را ادامه می دهیم. من پیشنهادها را به ناتو و ایالات متحده هنوزهم با درنظرداشت تهدیدهایی که اکنون در افغانستان وجود دارند، ارایه می کنم».

این نظامی امریکایی، گفت‌وگوها بین‌الافغانی را یگانه راه حل برای پایان دادن به جنگ در افغانستان می‌داند.

## ژوند


## د غذايي مسمومیت درملنه



که غذايي مسمومیت خفیف وي، نو کېدای شي چې په کور کې یې هم درملنه وشي. له دریو نیولې تر پنځو ورځو پورې وخت نیسي چې ناروغ خپل اصلي حالت ته را وگرځي. دغه راز کولی شی د ناروغۍ پر مهال په کافي اندازه مایعات وڅښي، له جوسو او نورو خوږو شربتو استفاده وکړي او د بدن اوبه مو پوره کړي. دغه راز د کوپرې اوبه هم کولی شي له بدن څخه ضایع شوي کاربوهایدریټونه پوره کړي او سټریا مو له منځه یوسي.

د مسمومیت پر مهال د کافئینو له څښلو په جدي ډول ډډه وکړئ، ځکه دا مواد مو د معدې د تحریک لامل کېږي. هغه چاې وڅښئ چې په ترکیب کې یې کافئین نه وي. کېدای شي ځینې یوناني درمل هم په دې برخه کې گټور تمام شي. بدن د دې لپاره چې د مسمومیت له شر څخه خلاص شي، له نس ناستې او استفراق څخه کار اخلي، چې په دې ډول په اسانۍ سره زهري مواد له بدن څخه وتلی شي، خو د دې لپاره چې بدن مو د اوبو له کمښت سره مخ نه شي، ښه ده چې له ډاکټر سره مشوره وکړئ. هغه کسان چې له غذايي مسمومیت سره مخ کېږي، کافي استراحت ته هم اړتیا لري. که څوک له شدید مسمومیت سره مخ کېږي او د بدن یوه زیاته برخه اوبه یې ضایع شوې وي، نو د دې اړتیا لیدل کېږي چې په روغتون کې بستر شي او د وینې له لارې سېروم ورکړل شي.

## ژوند حتماً ستونزې لري؛ خو همت پکار دی



که د مثبت فکر تر څنگ، لاس پکار هم شی، نو خپل پرمختگ به له ورایه درته ښکاري. کله چې نور خلک له ناروغۍ سره مخ کېږي، تاسې به د ودې په حال کې وی، کله چې نور په بشپړه وېره کې وي، تاسې به په پوره سکون کې، کله چې نور خلک له ستونزو سر ټکوي، ستاسې پر ژبه به د شکر شعر جاري وي او کله چې نور یوازې د ژوندې پاتې کېدو هڅه کوي، تاسې به پرمختگ کوی.

که تاسې هره ورځ هغه څه چې خدای پاک یې درسره وعده کړې په خپل ذهن کې تکرار کړی، ورځ تر بلې به غوړېږی. خدای پاک غواړي چې بنده گان یې دې تل خوشاله، ارام او د راتلونکې لپاره هیله من وي. دا په دې مانا نه ده چې تاسې دې هېڅ دښمن هم ونه لری. په دې کې د خدای پاک دا حکمت نغښتی دی چې که په ژوند کې له ستونزو سره مخ کېږی هم، بیا هم د خدای پاک مرسته درسره ده. په دې سره به تاسې د زړه په تل کې د خدای مینه حس کړی او زړه به مو سکون پیدا کړي. موږ او تاسې پر دې ایمان او باور لرو چې خدای پاک پر هرڅه قادر دی.